# د چین د خلکو جمهوریت او

# د افغانستان اسلامي جمهوریت ترمنځ

# د سیاسي پاسپورت درلودونکو ته د ویزې د معافیت

# هوکړه لیک

د چین د خلکو حکومت او افغانستان اسلامي جمهوریت حکومت چه وروسته له دې به «ژمنې لوري» و نومول شي.

د ژمنو لورو ترمنځ د دوستانه اړیکو د پراختیا، او د یو او بل هیواد څخه د لیدو لپاره دواړو هیوادو نو وګړو ته د اسانتیاوو د رامنځ ته کیدو په هیله؛

د مساوي حقونو او ګټو پرنسیپ؛ وروسته د دوستانه مشورو څخه دسیاسي پاسپورت درلودونکو وګړو ته، دواړو لورو په لاندې توګه هوکړه وکړه:

## لومړۍ ماده

د چین د خلکوجمهوریت وګړي او د افغانستان اسلامي جمهوریت وګړي چه د خپلو استوګن هیوادونو د سیاسي پاسپورت درلودونکي وي، د یو او بل هیواد ته د ننوتو(داخلیدو)، وتلو او تیریدو(ترانزیت) لپاره تر (۳۰) ورځو د ویزې د اخیستلو څخه معاف دي.

## دوهمه ماده

دژمنولورو هغه وګړي چه د هوکړه لیک په لومړۍ مادې کې درج شوي (په دریمه ماده کې د مندرجو کسانو څخه پرته) او د مقابل لوري هیواد ته تر (۳۰) ورځو زیات د اقامت، کارکولو، زده کړې، د خبرونو راپوروکولو او یا نورو فعالیتونو نیت ولري، مکلف دي د ویزې د ترلاسه کولو لپاره د بل لوري هیواد ته د ننوتلو څخه دمخه اړوند چارواکي خبر کړي.

## دریمه ماده

د ژمنو لورو وګړي چه دسیاسی پاسپورت درلودونکي دي او د بل لوري په هیواد کي د سیاسی او قونسلی نمایندګیو د غړیو په توګه دنده لري، او همدا راز د هغو د کورنۍ غړي د ننوتو، بیرته وتلو( خارجیدو) او تیریدو( ترانزیت) د رسمي دندي تر پایه د ویزي د اخیستلو څخه معاف دي. دغه ډله کسان د کوربه هیواد د رسمي جواز د شرایطو سره برابر د ننوتو نیټي څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کي مکلف دي، ثبت او راجستر شي.

## څلورمه ماده

دهوکړه لیک په لومړی ماده کي دژمنو لورو مندرج وګړي کوربه هیواد ته د ننوتو(داخلیدو)، وتلو(خارجیدو) او تیریدو(ترانزیت) پرمهال مکلف دي، چه دهغو پولو(سرحدونو) له لاري چه د بهرنیانو لپاره خلاص دي، تګ او راتګ وکړي او ټول اړوند تشریفات مراعت کړي.

## پنځمه ماده

د ژمنو لورو وګړي په کوربه هیواد کي د اقامت پرمهال د اړوند هیواد د ټولو قوانینو په مراعت کولو مکلف دي.

## شپږمه ماده

لوړپوړی دولتي چارواکي په شمول د مرستیال وزیر (معین)، او لوړپوړي پوځي(نظامي) کارکوونکي د تورن جنرالي پورته رتبي افسرانو په شمول، مکلف دي چه د رسمي سفر د مخه د دیپلوماتیکو کانالونو له لاري دکوربه هیواد د چارواکواجازه ترلاسه او یا کوربه هیواد خبر کړي.

## اوومه ماده

ژمني لوري کولی شي چه د سیاسي پاسپورت درلودونکي نامطلوبه وګڼي او خپل متبوع هیواد ته د هغه د ننوتو ممانعت وکړي او یا د هغه د وتلو(خارجیدو) په هکله پرته د کوم دلیل څخه اقدام وکړي.

## اتمه ماده

ژمني لوري کولی.شي دغه هوکړه لیک، د ملي امینت، د عامه نظم او عامي روغیتا د لاملونو پراساس، په لنډ مهال او یا په کلي توګه د تعلیق په حالت راولي. تعلیق کوونکي لوری د تعلیق کولو او یا د تعلیق څخه د خلاصون په هکله خپل نیت په کتبي توګه د دیپلوماتیکو مجاریو له لاري بل لوری ته خبر ورکړي.

## نهمه ماده

۱-ژمنی لوري د خپل د هیواد دسیاسي پاسپورتونو نمونه د هوکړه لیک د لاسلیک څخه (۳۰) ورځې وروسته یو او بل ته د خپلو دیپلوماتیکو مجاریو له لاری ورکوي.

۲-ژمنی لوري؛ د هوکړه لیک د اعتبار مودې په ترڅ کې د خپل سیاسي پاسپورتونو د تغییراتو په هکله بل لوری ته خبر ورکوی او د نوی پاسپورت نمونه(بیلګه) د دیپلوماتیکو مجاریو له لاری د هغه د کتبی اخبستنی د نیټې څخه (۳۰) ورځې د مخه بل لوری ته لیږدوي،

## لسمه ماده

۱-دغه هوکړه لیک، د ژمنولورو د رسمي یاددښت د ترلاسه کولو د (۳۰) ورځو څخه وروسته، په دننه ( داخل) هیواد کې د قانوني مراحلو په ترسره کولو ، د اجراء وړ دئ.

۲-هریو د ژمنو لورو څخه کولی شي چه د دیپلو ماتیکو مجاریو له لاری دغه هوکړه لیک فسخ کړي. د دی هوکړه لیک ګټی د کتبی خبر د ترلاسه کولو د نیټې څخه تر (۹۰) نورو ورځو د اعتبار وړ دئ.

۳-ژمنی لوري کولی شي چه د یو او بل د رضایت سره سم دغه هوکړه لیک تعدیل کړی.

دغه هوکړه په نیټه ۲۰۱٤/۱۰/۲۸ د بیجنګ ښار کی په څلورو اصلي نسخو پښتو، دری، چینائی او انګلیسی ژبو کی امضاء شو ، چه څلور واړه متنونه په یو شان د اعتبار وړ دي.

د چین د خلکو جمهوریت له خوا

د افغانستان اسلامی جمهوریت له خوا